شاندور پتوفي
ژباړه: فرهاد ویاړ

## ولس

په یوه لاس قلبه کوي
او په بل لاس توره وهي
او په دې ډول بیوزله ولس
تر وروستی سلګی پوري
خپله خوله تویوي، خپله وینه تویوي.

ولي دومره خوله تویول؟
د ځمکي سخاوتمنده مور یي
په خپله ورکوي
څومره چي اړتیا لري
د خوراك او پوښاك لپاره.

او کله چي دښمن رارسیږي
ولي توره وهل او دومره وینه
آیا د خپل له هیواد څخه د دفاع لپاره؟ په رښتیا؟
بې له حقه خو کوم هیواد نشته
او ولس ته خو هم حق نه ورکوي.